پیشگام
سیاسی ـ تحلیلی

## د تلیادې مبارزې نسرین معروفي یاد دې پرتمین وي!

په داسې وخت کې چې د افغانستان کړېدلې او ربړېدلې مېرمنې تر ښلابېلو ستمونو لاندې ژوند کوي او د مېرمنو مبارزې او هڅې یوې پرمختللې، مترقي او پر دموکراتیکو ارزښتونو ولاړې لارې ته اړتیا لري؛ په داسې وخت کې چې د طالبي او جهادي فاشیستانو د جنایتونو پر وړاندې په پرمختللي اند او فکر وسلوالو مېرمنو ته زیاته اړتیا ده؛ په داسې وخت کې چې یوه ژغورانده او د خلاصوونکې روښانتیا کار د یوې سترې دندې په توګه مخې ته لرو؛ په دې وخت کې د تلیادې مبارزې مېرمن، آغلې معروفي مړینه نه یوازې دا چې زموږ زړونه دردوي او په ویر مو کښېنوي، په ورته وخت کې د آزادي بخښوونکي غورځنګ لپاره یې نشتون، یوه لویه ضایعه او تشه شمېرل کېږي.

خو له دې ټول درد او ویر سره، نېکمرغه او ویاړمن یوو، چې آغلې نسرین معروفي خپل مسئولیت او رسالت په ښه توګه تر سره کړ. که له پخوانیو مبارزاتي کارنامو یې راتېر شوو، نقش یې په تېرو دوو لسیزو کې، چې نړیوالو ښکېلاکګرانو زموږ وطن په جنایتونو لړلی و، خورا بنسټیزه، پرېکنده او پرتمین و. تلیادې معروفي د خپل سیاسي بصیرت او ځیرکتیا له مخې استعمار، امپریالیستان او د هغوې بېلابېل ګوډاګیان (جهادیان، طالبان، داعشیان، هېواد پلورونکي تکنوکراتان، د مدني ټولنې لوټماران او...) په ښه توګه پېژندل او د خپل سیاسي اند سره سم یې د ولسونو له دې دښمنانو سره مبارزه کوله او ولسونه یې ویښتیا ته رابلل.

په داسې حال کې چې ښکېلاکګرو له یوې خوا زموږ هېوادوال وژل، بمبارول او هستي ورته تری تم کوله، جهادیانو د دې ښکېلاکګرو د زرخریده مریيانو په شان د استعماري جګړې سوداګري کوله، مزدورو تکنوکراتانو یا د ناټویي جنرالانو کوربانه وو او یا هم د جهادیانو پر خونړې لاسونو پرېوتل، ستمګرو طالبانو د الله اکبر په نارې سره واټونه په وینو لړل او ان هغوې چې یو وخت د مبارزې ویاړ درلود، له بده مرغه په ګونډو شوي وو، په داسې وخت کې تلیاده نسرین معروفي جنګېدله، له خپل قلم او کلیمو سره جنګېدله.

مېرمن نسرین معروفي د فرهنګي جبهې یوه نه ستړې کېدونکې، هڅانده او زیارمنده سرتېرې وه. د افغانستان آزاد – آزاد افغانستان پورتال، چې له کلونو راپدېخوا د روښانتیا مورچل دی، د نوښت ویاړ یې دې او نورو مبارزینو ته ګرځي. دې پورتال چې د یرغلګرو د تېري پر مهال خپله دنده د ولس په دفاع، د اشغال د موخو په بربنډولو او د فاشیسو بنسټپالو ډلو (طالبي، داعشي، جهادي) د نقاب په څېرلو کې په ښه توګه تر سره کړې، تر شا یې د نورو ژمنو مبارزینو تر څنګ تلیاد مېرمن معروفي هم په کلکه ودرېدلې وه، له ټولو بوختیاوو او ناروغیو سره سره هغه د ولس له دفاع څخه یوه ګړۍ هم په شا نشوه. کله چې بهرنیو ښکېلاکګرو، خپل مریيان تعویض او ارزان قیمته ملایان یې د واک پر ګدې کښېنول، نسرین معروفي د پورتال د نورو چلوونکو سره یوځای خپلې مبارزې ته لا په جدیت ادامه ورکړه او دا نوې پروژه یې د ښکېلاکګرو یو استعماري پروژه وګڼله او د امریکا د قراردادیانو پر ضد یې خپلې مبارزې ته ادامه ورکړه.

مېرمن معروفي یوازې د «پورتال» په کار بسنه نه کوله. هڅه یې کوله چې دننه په هېواد کې له هغو خوځښتونو، سازمانونو، ډلو او افرادو سره مرسته وکړي، چې د ولس د مدافعینو په توګه د ښکېلاک او مریيانو پر ضد د خپل وس سره سم یې مبارزه کوله. هغه دا مبارزه په مادي او معنوي مرستو لا پیاوړې کوله، د یوې ملاتړکوونکې مبارزې په توګه یې تل د هېواد دننه کار ته خورا ارزښت ورکاوه او دا کار یې اساسي او بنسټیز ګڼلو او د همدې لپاره دننه په هېواد کې د روښانتیایي کار د پیاوړتیا لپاره د هغه مهم نقش له پامه غورځولی نشوو.

تلیاده معروفي سره له دې چې له ناروغۍ کړېدله، خو هېڅکله نهیلي نشوه، د ژوند تر پای پورې خپله مبارزه وکړه. هغه کولای شول چې د نورو مېرمنو په شان غلې او چوپه پاتې شي او مبارزه ونکړي او یا هم د ځینو مېرمنو په شان، چې د ستمګرانو لاېي ګرانې دي، د ستم تر څنګ ودرېږي او د لودېځ د بنسټونو او رسنیو په «اوځارې» څېرې واوړي او د ښکېلاکګرو او جنایتکارانو له لاسونو جایزې واخلي، خو هغه پر دې ټولو نارې توې کړې او د خپل ولس د مدافعې په توګه، بې له دې چې پر کاذبه مشهورتیا باور ولري، خپل وخت، انرژي او امکانات یې د ستم پر ضد مبارزې ته ځانګړې کړل او د هېواد د زیارکښو پرګنو د یوې مبارزې خور، لور او ملګرې په توګه له نړۍ څخه په برم او پرتم خپلې سترګې پټې کړې.

د «پیشگام» نشریه، په دې توگه دیپلوم انجنیر خلیل الله معروفي، د تلپادې نسرین معروفي د کورنۍ نورو غړو، د افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان پورتال مبارزو چلوونکو او د هېواد د مترقي او مبارز غورځنگ منسوبینو ته د دې مبارزې مېرمن د مړینې له امله د غمرازۍ مراتب وړاندې کوي او په دې ویر کې ځان شریک گڼي. موږ په کلکه باور لرو چې د مېرمن معروفي لاره به ادامه لري او یاد به یې همېش په مخکښو او مترقي مبارزو کې پرتمین یادېږي.

**د تلپادې مبارزې نسرین معروفي یاد دې پرتمین او ځلانده وي!**

**د «پیشگام» خپرونه**
**د سنبلې پینځمه ۱۴۰۳**